# د لرغوني بهيرمتون- ګرافيک ترکيبونه

## ۱۶۸۵

- د ننوتلو نيټه

***فرعي متن***

**فرانسې د لرغوني رژیم لاندی؛ دهرکلی ځمکه، د تبعید ځمکه**

د ۱۷ پيړی په پای کې فرانسې سلطنت د کډوالی او مهاجرت قلمرو وه. هغه بهرنيان چې هلته ميشت وه په عمده توګه د ګاونډيو هيوادونو څخه د اقتصادي، سياسي او مذهبي دلايلو له کبله راغلي وه او لږ تعداد يې د تابعيت ليک ترلاسه کوله چې هغوی ته اجازه ورکول تر څو د پادشاه پيرو/تابع واوسي.په عين وخت کې، د ټرانس اتلنتيک د غلامانو سوداګری پرمختک وکړه. د فرانسې په لويديځ انډيز ملکيتونو کې د کښت او کرنيز اقتصاد د افريقايي اسيرانو چې د مهاجرت څخه وروسته ژوندی پاتی وه ددوی د غلام کيدو له امله غوړ شوي و. مارچ په ۱۶۸۵ کې، "د فرانسوي امريکاپه ټاپوګانو کې د غلامانو د پوليسو فرمان" چې د تور کوډ په نوم پيژندل شوی، چې د سيمهايزو دودونو او فقهي په پايله کې نږدې پنځوس کاله مقررات ترکيب شوي صادر شو.

د ۱۶۸۵ په اکتوبر کې، څوارلسم لوئس د فونتبلو (Fontainebleau) فرمان لاسليک کړ چې له امله يې د پروتستانيسم « هغه دين چې ادعا کيږي اصلاح کيږي» عمومي اجرا منع کړ، له فرانسوي پروټستانټس ( Protestants) اويا هوګنوټانو(Huguenots) څخه وغوښتل شو تر څو کاتوليزم ته واړوي. له همدې کبله د دوه کلونو په ترڅ کې تقريبا د هغوی سل زره (۱۰۰۰۰۰) کسانو نورو هيوادونو ته لکه اروپا، ويسټ انډيز او جنوبي افريقا ته تبعيد شول.

- زماني ترتيب/تاريخچه

**۱۶۸۵**: د " فرانسه امريکا د ټاپو غلامانو د پوليس په اړه" قانون تصويب چې بيا " تور کوډ" ونومول شو.

د فوټنبلو فرمان د نانټ فرمان چې په ۱۵۹۸ کې د څلورم هانري له خوا لاسليک شوې وه او پروټسټانو ته د وجدان آزادی، مدني مساوات او محدودې مذهبي آزادی ورکړی وه لغوه کړ. او تقريباً سل زره هوګنوټيان هيواد پريښود.

**۱۶۸۸**: د انګليس دويم انقلاب وروسته، د کاتوليک پادشاه دويم جيمز تبعيد ته لاړ او هغه نه وروسته ۳۰۰۰۰ نه تر ۴۰۰۰۰ انګليسي، اسکاتلنډي او يا ايرلنډي ژاکوبيتس ( د پادشا ملاتړ کوونکی) فرانسې ته لاړل.

۱۶۹۷: دخپل مالي چارو د اصلاح لپاره سلطنت پريکړه وکړه تر څو تول بهرنيانو او دهغوی اولادونو، وارثانو او منتسبانو باندې ماليه وضع کړي.
۱۷۷۷: د "تور پوليسو" لپاره د پاچا اعلان "هرڅوک، تور، ملاتويان او رنګ لرونکي خلک فرانسي ته د ننوتلو څخه منع کوي"، پرته لهنوکرانو.

- CP 0.1 *Esclaves et libres de couleur*

***فرعي متن***

**غلامي او قاچاق د کوډ نوار (Code noir) په وخت کې**

د ټرانس اتلنتيک بردګانو سوداګرۍ په ۱۷ پيړۍ کې پيل شوه. دا سوداګرۍ اروپا،امريکا او کارابين سره نښلول. په ۱۶۷۴ زيږديز کال کې د فرانسي ويسټ انډيز ملکيتونه شاهي کالونۍ يا مستعمره شوه. په ۱۶۸۵ کې يو قانون د " فرانسي امريکا دټاپو پوليس" باندې تصويب شوه چې وروسته د تور کوډ په نامه ونومول شوه. دا يو نوی نژادي نظم رامنځته کړی وه چې د ۱۷۱۳ او ۱۷۹۱ تر منځ يو ميليون افريقايي بنديان خرڅ شول او ويسټ انډيز ته واستول شول. په شمول د ۷۷۵۰۰۰ کسانوچې سانټو ډمينګوته استول شوي وو.د فرانسي انقلاب په موقع، غلامان د فرانسي د ويسټ انډيز نفوس له ۸۰ سلنه څخه زيات استازيتوب کوله او پاتې برخه يې اوسيدونکي او د رنګ څخه آزاد خلک وو چې دغه آزاد خلک او يا دهغوي اولادونه د سپينې فرانسوي په څير له ورته حقونه نه درلودل.

- CP 0.2 *L'exil des huguenots*

**د فرعي برخې متن**

**د فرانسوي اعتراض کونکي يا هوګينټس(Huguenots) تبعيد:**

«يو پادشاه، يوقانون اويوه عقيده»: ددې اصل پربنسټ څوارلسمه لوئيس (Louis XIV) د فانټنبلو(Fontainebleau) فرمان صادر کړ. د دغه فرمان په وسيله هغه د نانتس (Nantes) فرمان چې د څلورم هنري (Henri IV) له خوا په ۱۵۹۸ کال کې لاسليک شوه او پروټسټنټانو يا هوګينتس ته مذهبی آزادۍ ورکړه، لغوه کړ. فرانسوي پروټسټنټانو ته امر وشوه تر څو کاتوليسيزم ته واړوي.خود ښامار (dragonnades) په نامه ځورونه او شکنجه ته مخامخ کيدو سره ددوی څلورمه برخه جلا وطنی/ تبعيد ته ترجيح ورکړل.هغوی په متحده ښارنو ( اوسنی هالند)، سويس، انګلستان او پروشيا کې هرکلې کيدل.اما په اوسنی نړۍ کې ځيني تر سويلي افريقا او برتانوي مستعمرو ته رسيږي. د ۱۶۸۰ او ۱۷۱۵ زيږديزکلونو په ترڅ کې يوسلو اتيا زره (۱۸۰۰۰۰) هوګينتس فرانسه پريښوده.او دا دکډوالی په برخه کې د زوړ رژيم خورا مهم خوځښت بلل کيږي.

- CP 0.3 *Les étrangers sous l'Ancien Régime*

***فرعي متن***

**بهرنیان د زاړه یا لرغوني رژیم لاندې**

د فرانسې سلطنت، سوداګر، دستفروشان، بزګران او کسبګر د ګاوندیو هیوادونو څخه جذبول. همدارنګه هغه د وړ بهرنیو متخصصینو خدماتو څخه ګټه پورته کړه، لکه ایټالوی هنرمندان او بانکداران، هالنډی او کاستیلین/ اسپانیایی سوداګران او دکبنتی مالکان، تایپ کوونکي او سلاح جوړونکي د راین (Rhin) له ګوټ ګوټ څخه...

بهرنیانو باندې د وضع شوي محدودیتونو سره سره، د مطلق سلطنت فرانسې نه یوازې د کډوالی لویه څمکه ده بلکې د پناهندګی ځای هم ده. د ۱۷ او ۱۸ پیړیو په جریان کې ډیری تبعیدیان لکه ژاکوبیتس سلطنت ته ورسیدل؛ د کاتولیک پادشاه دوهم جیمز انګلیسي، سکاتلینډی اویا ایرلنډی ملاتړ کوونکی چې د انګلیس انقلاب له خوا ایستل شوي وو دوی خپل پادشاه سره کوم چې فرانسه کې پناه اخیستې وه یوځای شول.

- **<u>د ننوتلو نیته:</u>**

***فرعي متن***

**بهرنیان د فرانسي په انقلاب کي**

بهرنیان د زوړ رژیم په درى طبقو کې ( اشراف، روحانیون او دریمه طبقه) موندل کیدل. پدی حال سره، دوی د پادشاه تابعینو چې په سلطنت کې زیږیدلي و او« régnicoles » بلل کیده له ورته حقوقو څخه برخمند نه و.

په ۱۷۸۹ زیږدیز کال کې د فرانسې انقلاب سیاسی تابعیت د نوي مدني او سیاسي حقوقو د رسمیت پیژندلو پر بنسټ رامنځته کړ.خو هغه بهرنیان چې د بیان او غونډې له آزادی څخه برخمن وه، د رایې ورکولو له حق څخه بې برخه شو. پدی صورت، هغوی د فرانسوي اتباعو مرجع سره د یوځای کیدو وړتیا درلودل؛ د فرانسې انقلاب تابعیت او عمومي دندو ته د هغوی د لاسرسی شرایط ساده کړ.

په دې انقلابي شرایطو کې نږدې یو لک او پنځوس زره (۱۵۰۰۰۰) فرانسوي کډوال چې د سلطنت ملاتړ کوونکي وه او یا د خپل ژوند څخه په ویره کې وو، جلا وطنی یا تبعید غوره کړل او په فرانسه کې د زوړ یا لرغوني رژیم د بیا رغولو تمه یې وکړل.

دغه کډوالان بیا وروسته به له خپل مدني حقونو څخه بی برخه او د خپل ملکیت څخه محروم پاتې کیدل. ۱۸ پیړی په آخر او ۱۹ پیړی په شروع کې د مهاجرت نور ډولونه ادامه درلود او میتروپولیټان فرانسه یې د مستعمراتو سره نښلول. پداسې حال کې چې د بردګانو/غلامانو سوداګرۍ خپل اوج کې وه، ډیری کډوالان په سانټو ډومینګو (-Saint-Domingue ۱۷۹۱) کې د غلامانو د بغاوت او پاڅون او همدارنګه د غلامۍ لومړۍ ځل له منځه وړلو (۱۷۹۴) څخه وروسته میتروپولیټان فرانسې یا د امریکا براعظم ته لاړل چې د میتروپولیتین فرانسې مستعمراتو سره نښلول. د لومړۍ امپراتورۍ لاندې (۱۸۱۵-۱۸۳۰)همدارنګه په یاده موده کې د بیارغوني پروسې په پیل کې، د اروپا د سرحدونو بدلون چې د ناپلیون جنګونو سره تړاو لري د براعظمی مهاجرتونو باعث شو لکه فرانسوي سرتیري، بهرنی سرتیري، د جګړې بندیان، سیاسي تبعیدیان او د ګاونډیو هیوادونو کارګران.

- زماني بهیر/ ترتیب:

**۱۷۸۹:** د بشری حقونو او اتباعو اعلامیه تصوییه شوه، د فرنسویانو د مهاجرت پیل څوک چې د انقلاب مخالف وو او یا ستونزو څخه خارج ته تښتیدل.

**۱۷۹۱:** په سانتو دومینګو (Sainte-Domingue) کې یو بغاوت/ شورش، چې دوه کاله وروسته په مستعمره یا colonie کې او بیا په فبروری ۱۷۹۴ کې په ټوله فرانسه کې د غلامی د ختمولو باعث شو.

**۱۷۹۳:** په داسي حال چي جمهوریت له بیرون او بهر څخه ګواښل کیده، څارنیز او اخراجي اقدامات بهرنیان په نښه کول، البته هغه کسان چي«مظنون»شمیرل کیده.

**۱۸۰۲:** عمومي بخښنه د فرانسوي کډوال لپاره؛ په مستعمراتو کې د غلامي بیرته راګرځول د ناپلیون بوناپارت (Napoléon Bonaparte) بیا د لومړی قونسل له خوا.

**۱۸۰۴:** ناپلیون د مدني قانون تصویب؛ په دغه وخت کې فرانسوي تابعیت د ویني حق یا پلارني نسب باندي ټینګار کوله او د تابعیت د ترلاسهکولو لپاره د استوګني اړین وخت لس کاله ټاکل شوی وه.

***فرعي متن***

**بهرنیان او د سیاسي تابعیت رامنځته کیدل**

په آګسټ ۱۷۸۹ نیټه کې د تابعیت او بشري حقونو د اعلامیې په تصویب سره ، د پادشاه رعیت د تابعیت څښتن شول او بهرنیان چي مخکې د اجنبي، بهرنی یا خارجي په توګه پیژندل کیدل د سیاسي او مدني کمزورتیا سره مخامخ شو. د اپریل ۱۷۹۰ نیټی څخه، هغوی کولای شوای چي فرانسوي حیثیت ترلاسه کړي، البته په دی شرط چي دوي مدني حلف/قسم اخیستی وي او په دغه هیواد کی د پنځو کلونو لپاره په دوامداره توګه استوګن وي. بهرنیان هغه نه وروسته په ادارو او د ټولني په مختلفو برخو کې لکه انقلابي او سیاسي حرکتونو او ټولنو کې ښکیل شول. د ۱۷۹۳ په پسرلی کې، د اروپایي پادشاهانو په مقابل کې د جګړو له کبله هغوی د څارنیز او اخراجي اقداماتو لاندې راغلل.په ۲۴ جون ۱۷۹۳ نیټه کې د غرنی اساسي قانون چي هیڅ کله هم عملی ونشو، په سمبولیکه ډول د آزادی مدافعیونو ته ورکړل شوې پناهندګی په رسمیت وپیژندل.

CP 1.2 *Dynamiques coloniales et atlantique* -

ی -

***فرعي متن***

**د Saint-Domingueانقلاب**

په ۱۷۹۱ کې د سانټو ډومینګو په فرانسوي مستعمره کې چي اوس هائیتي نومیږي، د غلامانو بغاوت یا شورش د انقلاب لامل او د مختلفو دلایلو له وجه کارابین او شمالي امریکا پر لور د عمده مهاجرتونولامل شو. هغوی احتمالا سپین پوست اوسیدونکي وه او یا تور پوستکي غلامان چي د مالکینو له خو په زور اخیستل شوي وه. اود ۱۷۹۱ او ۱۸۱۵ په ترڅ کې پنځه لس زره (۱۵۰۰۰) کسان له سینټو ډومینګو څخه لوزیانا ته وتښتیدل. په ټاپو کې د غلامانو د بغاوت له امله، په سینټو ډومینګو کې غلامی په ۱۷۹۳ کال کې پای ته ورسیده او په راتلونکي کال دغه موضوع ټولې فرانسې ته وغځول شوه.

پدې حال سره، د ۱۸۰۲ څخه، غلامی د ناپلیون بوناپارټ لخوا بیا رامنځته شوه او رنګ پوستکي خلک حق نه درلودل تر څو فرانسوي تابعیت ولري.

- <u>CP 1.3 *La France post-révolutionnaire*</u>

***فرعي متن***

**کارګران او تبعیدیان**

د ۱۸ برومر کودتا ( ۱۹ نومبر ۱۷۹۹) او لومړنی امپراطوری (۱۸ می ۱۸۰۴) اعلان څخه وروسته ناپلیوني فرانسه په خپله خاوره کې د بهرنیانو هرکلی ته دوام ورکړه. مدني قانون تابعیت ته د لاسرسی شرایط بیا تعریف کړ او که چیرې بهرنیان غوښتل چې فرانسوي شي لیږ تر لیږه باید لس کاله په دغه قلمرو کې میشت وي. په عمل کې لیږ کسان وه چې غوښتنه یې کوله او تابعیت ترلاسه کول، ځکه چې دا نظامي مکلفیتونو لپاره ژمنتیا ته اړتیا لرله.

پدې اساس، ډیری بهرنیان اقامه په ځای کې منل « admission à domicile » حالت غوره کوله کوم چې د مدني قانون په واسطه جوړ شوې وه او خلکوته د یوې ټاکلي مودې لپاره مدني حقوق ورکوله. مهاجرتي بهیر د بیارغوني په موده کې جریان درلود او د ۱۹ پیړی په لومړی نیمایي کې فرانسه په اروپا کې د کډوالي لومړی هیواد وه.

۱۸۴۸

- **د ننوتلو نېټه**

***فرعي متن***

**مهاجرین، تبعیدیان، کډوالان او مستعمرات**

د جولاي پادشاهی (۱۸۳۰-۱۸۴۸) په زمانه کې په فرانسه کې د بهرنیانو هرکلی په برخه یو مهم بدلون رامنځته شو. د لیبرال د دری کلونو عالي انقلاب د زرګونو اروپایي سیاسي تبعیدیانو (عمدتاً لهستاني خلک چې د روسیې له جبر څخه تښتیدلو) د راتلو لامل وګرځید. په ۱۸۳۲ کال کې د کډوالو په اړه لومړنی قانون ددی اداري کټګوری په رسمیت پیژندنه منظور کړ او پدې توګه د بهرنیانو یوه محدوده ډله یې چې د نورو په پرتله ډیر نظر لاندې وه جلا کړه.

په ۱۸۴۸ کال کې د فبروري انقلاب سلطنت ته د پای ټکي کیښود او دویم جمهوریت د نارینه رایه و منله. هغه نه وروسته د تابعیت د ترلاسه کولو لپاره شرایط آسان شو. د لومړی ځل لپاره په ۱۸۵۱ کې بهرنیان د نفوس شمیرنې په بهیر کې شامل او د هیواد په کلتوري ژوند کې ښکیل شول. همدارنګه هغوی په سیاست، انقلابونه او پاڅونونو کې ښکیل شول چې د ۱۹ پیړۍ یې ځانګړی کړی وه.

په ۱۸۴۸ کال کې په مستعراتو/کالوني کې کډوالی پرختیا ولیدله او له ۱۸۳۰ څخه د الجریا/الجزایر فتح خونړۍ، استعمار او زړه نازړه وه. د امیر عبدالقادر له ماتې وروسته دویم جمهوریت شمالي الجزایر په دوه برخو وویشل.

دولت غوښتل چې فرانسوي کډوالان هلته ورشي خو الته د میشت و ګړي اکثریت تعداد له جزایر/ټاپو او د مدیترانې له فقیر ساحو څخه راغلي وو. په الجزایر کې جمهوریت چې د ۱۸۴۸ زیږدیز کال نه وروسته محافظه کار شوې وه هڅه وکړه تر څو نا مناسب کسان بیرته وباسي مګر د زندان مستعمره کولو لپاره هڅې ناکامې شوې.

- **زماني بهير**

**۱۸۳۲:** د یاد کال په مارچ کې د مهاجرینو په اړه لومړنی قانون تصویب شو چې په اداراتو کې دهغوی کورنی توقیف، له پایتخت څخه په ښه واټن، عام ګرځوله

**۱۸۴۸:** دویم جمهوریت؛ د نارینه ښاریانو /اوسیدونکو لپاره د رأی حق ورکړل شو او په مستعمراتو کې د غلامی دویم ځل په شمالي الجزایر په فرانسوي برخو وویشل لکه الجزیره، کنستانتین او اوران. د اروپایانو او فرانسویانو مهاجرت دغه سیموته هڅول کیدل.

**۱۸۵۱:** د دوه ګونې تابعیت منل؛ فرانسوي به وه، اما د زیږون په وخت کې، هر هغه څوک چې په فرانسه کې د هغه بهرنی مور او پلار څخه زیږیدلي وه چې هغوی هم د فرانسې په خاوره کې زیږیدلي وي نو دا هغه لپاره ممکنه وه چې خپل تابعیت څخه واوړي او یا تابعیت پریږدي.

د یو سرشمیرنې په اساس چې بهرنیان هم لو مړی ځل لپاره پکې شامل شوي وو، بهرنیان د ټولو وګړي ۱٪ تشکیلول.

**۲ دسمبر ۱۸۵۱:** د لوئیس ناپلیون بونه پارټ له خوا کودیتا چې لس زره فرانسوي جمهوریت غوښتونکي تبعید ته اړ کړ.

**۱۸۷۱:** د پاریس ښار ( Commune de Paris) په نامه پاڅون چې په دغه پاڅون کې د آډولف تیرس دولت پر ضد ډیری بهرنیان برخه واخیستل. د هغې د جبر څخه یوه ورځ، نږدې ۴۰۰۰ اوسیدونکو نوي کالیډونیا ته واستول شول، چیرته چې دوی د ۱۸۶۴ او ۱۸۷۱ پاڅونونو وروسته د ۲۰۰۰ الجزایریانو سره یو ځای شول.

- CP 2.1 *Réfugiés, naissance d'une catégorie administrative*

***فرعي متن***

**کډوالان، او دیوې اداري کټګورۍ/طبقه زیږیدنه**

دTrois Glorieuses انقلاب نه وروسته په ۱۸۳۰ کال په پاریس کې زرګونه تبعیدیان راټول شول او له وه زرو (۷۰۰۰) نه زیات بهرنیان پناهندګی او مالي مرستي ترلاسه کړل. دولت په ډیپوګانو چې د پایتخت څخه په لرې ښارونو او بهرنۍ پولو کې موقعیت درلود، د هغوی استوګنې ځای ټاکلی وه.

د ۱۸۴۸ زیږدیز کال د " د خلکو پسرلي"انقلابونو لپاره ځانګړي کال وه. د جمهوریت له اعلانیدو څخه وروسته د فیبروری میاشت کې د کارل مارکس په څیر مشهور بهرنی تبعیدیان ګټونکي او یا بیرته فرانسي ته راستانه شول. نوي رژیم تابعیت په اسانه توګه ورکوله اما راتلونکي کال هغه جمهوریت چې محافظه کار شوې وه د هغوی د منلو شرایط یې محدود کړ.

- CP 2.2 *Circulations politiques et culturelles*

***فرعي متن***

**سیاسي او کلتوري مفاهیم**

د نولسمې پیړۍ په اوله نیمایي کې بهرنیان د رومانتیک (romantique) دورې په اکثره کلتوري مراسمو کې برخه واخیستل. دوی د سیاسي حقونو څخه د ګټې پورته کولو پرته، د نظرونو په ارایه کولو او په ځانګړي توګه مطبوعاتو برخه کې ګډون وکړل. په ۱۸۴۹ زیږدیز کال کې یو لهستاني شاعر Adam Mickiewicz د La Tribune des peuples په نامه یوه ورځپانه یې تأسیسه کړه چې نړیوال لیکوالان درلوده. د بهرنیانو ژمنتیا هم لیږ سولیزه بڼه درلوده. دپاریس د کامیون په سنګرونو کې (پسرلي ۱۸۷۱) بهرنیان لکه پولنډي جنرالان، جاروسلاو ډومبروسکي، روسی فعال Elisabeth Dmitrieff یا د هنګري ګاټې Léo Frankelموندل کیدل.

- CP 2.3.1 *Compter, surveiller, représenter les étrangers*

***فرعي متن***

**برجسته اجنبیان**

په ۱۸۴۴ زیږدیز کال کی Les étrangers à Paris انځوریزه سریال خپاره شو چي په پلازمینه کي د بهرنیانو اوسیدل او یا د پلازمیني له لارې د هغوی تیریدل په ګوته کول. هلته د نورو په منځ کي، یوه مالداره انګلیسی مسافر، د ساووي ښځه د کورې صفا کار چي هغه وخت کي د سارډینا پادشاهی یی په لاس کی لرله او یو هسپانوي تبعیدي پیدا کیدل. هغه بهرنیان چي په ادبیاتو کي ښکیل وو شهرت ترلاسه کول. د ۱۸۱۵ په مارچ کي د لومړۍ ځل لپاره بهرنیان په ملي سرشمیرنه کی شامل شول. بیا وروسته هغوی د ټول قلمرو ۱٪ وګړي او په پاریس کی د ۶٪ نفوس استازیتوب کول. د کنټرول نوي ډولونه وربانديې وضع شوي وه. لکه انفرادي بولټن د کډوالو لپاره و د اوسیدو اجازه لیک هغه بهرنیانو لپاره کوم چي غوښتل په لویو ښارونو کي ځای پر ځای شي.

- CP 2.4.1 *Seconde abolition de l'esclavage*

***فرعي متن***

**د غلامۍ دویم ځل له منځه وړل**

د ۱۸۴۸ کال د اپریل ۲۷ فرمان د فرانسي په مستعمراتو کي د دویم ځل لپاره غلامی چي ؛ انساني کرامت ته یرغل؛ په حیث پیژندل شوي وه لغوه کړ. هغه فرنسویان چي د غلامانو سوداګری یی کولواو یا د غلامانو اخیستلو ته ادمه ورکول نو د فرانسوي تابعیت لاسه ورکولو خطر سره به مخامخ کیدل. مدني حقونو د ؛ زاړه استعمار؛ ( ګواډیلوپ، ګیانا، مارټینیک، ریونین او سینیګال) ښځه آزاد شوي غلامانو ته ورکول کیدل اما د دوي خوځښت خورا کنټرول لاندي وه.

د غلامانو د ځای په ځای کولو په خاطر کښتونه او کرنیز برخی په پراخه کچه بوختیا یا «engagisme » سیستم ته بیرته وګرځید. اکثرا ښکیل افریقایان او آسیایان په پور باندې سخت کاري تړونونه ترسره کول تر څو د فرانسی مستعمرات سره یو ځای شي او هلته ژوند وکړي.

نوي حالتونه په مستعمره کي ښکاره شوو، چي د غلامی ځمکه نه وه، لکه فرانسوی الجزایر. په ۱۸۸۱ کي، قانون یو استثنایی رژیم تعریف کړ چي په اصلي فرانسویانو باندې تطبیق کیده. د استعماری تسلط ربینتینی نښه، اصلي کوډ د امپراطورۍ په ډیری برخو کي پلي کیدل.

**<u>ننوتلو نيټه:</u>**

***فرعی متن***

**د بهرنيانو ښځه تر مهاجرينو پورې**

د دريم جمهوريت لاندې، د جون ۲۶، ۱۸۹۸ قانون دځمکي دوه ګوني حق اجباري کړ. هغه ماشوم چی په فرانسه کې زيږيدلي وه چي د مور او پلار ښځه په فرانسه کې زيږيدلی وي د زيږون ښځه فرانسوی به وه.

دوه لاملونه دا قانون هڅول:

- په ميټروپول، دا د فرانسوي ماشومانو د مخنيوي پوښتنه وه، چی د بهرنيو والدينو ښځه زيږيدلي وو، د فرانسوي تابعيت پريښودلو ښځه مخنيوي کول تر څو د پنځه کلن نظامی خدمت ښځه مخنيوي وشي، بيا درې کلونو ته راټيټ شو.
- په الجزاير کې، فرانسوي استعمارګران ويره درلوده چی په شميره کې د هغوی ځای اروپايی بهرنيان ونيسي، همدغه قانون حکم کول چی د وروستي نسل اولادونه په اتومات ډول فرانسوی کيږي کله چې دوی عمر ته ورسيږي.

مهاجرت د ۱۹ پيړی په پای کې دوام وکړ. دا په عمده توګه د بلجيم او ايټاليا کارګران وه چي د « وسلو نشتوالی» ډکولو لپاره راتلل. په ورته وخت کې نړۍ له اوږده اقتصادی بحران سره مخ وه. دا په فرانسه کې د زينوفوبيک خپريدو لامل شو: بهرنيان د دښمنی pamphlets او همدا رنګه د ډله ايز تاوتريخوالي هدف وه. د ۱۸۸۰-۱۸۹۰ کلونو پورې، د بهرني کار شتون د يوې ستونزې په توګه ليدل کيده. د مهاجر شخصيت د يهوديانو په شمول – د فرانسوي په شمول، لکه د کپتان الفريډ ډريفوس مطلقه قربانی وه.

- زماني بهير

۱۸۸۱: په فرانسه کې د ميشتو بهرنيان شمير د ټول نفوس نږدي ۲.۷ ٪ استازيتوب کول، يعنی له ۱ ميليون ښځه ډير خلک وو.

۱۸۸۹: د ځمکی دوګونی حق يا مضاعف قانون د ۱۸۸۹ کال د جون ۲۶ نيټي قانون لخوا تاسيس شو.

**۱۸۹۳:** د ملت پال ليکوال موريس بريس لخوا د بهرنيانو پر وړاندي د يوې رسالې خپارول. په Aigues-Mortes کې د فرانسوي کارګرانو لخوا د لږتر لږه درجن ايټالوي موسمي کاګرانو قتل عام د مالګی په مارش کې کار کوي.

د قانون تصويب په « فرانسه کې د بهرنيانو د پاتی کيدو او د ملی دندې د ساتنې په اړه» : هغه بهرنيان چی کار ته راتلل بايد د استوګنې اعلاميه ورکوله.

**۱۹۰۱:** ایټالویانو د بلجیم څخه مخکې تر ټولو لویه بهرنۍ ټولنه جوړه کړې وه.

- CP 3.1 *Travail et immigration de masse*

***فرعي متن***

**کار او مهاجرت**

د ۱۹ پیړۍ په پای کې مهاجرت په فرانسه کې نوی اړخ وموند. د ۱۸۸۱ کال سر شمیرنه وښودله چې له ۱ میلیون نه ډیر بهرنۍ خلک په سیمه کې ژوند کوي. د تور په کارخانو، کانونه او شمالي صنعتي ښارونو کې د فلنډیانو په ځانګړي توګه فلانډري خلک شتون ډیر وه. په پاریس کې مهاجرین په ځانګړې توګه په لویه پروژو کې چې د هاسمن له خوا د پلازمینې عصري کولو لپاره پیل شوي وه ډیر وه. ایټالیایي کارګران د ( Chemins de fer du Midi) په جوړونه کې ګډون کوله او یا ځان سواګرۍ او نورو خدماتو ته ځانګړې کړي وو. په ورته وخت کې د اروپا او یا لرې ساحو څخه د ټیټ مهارت لرونکو خلکو راتګ روان وه. په هغه وخت کې، کار، د ټولنو ګډون او د جمهوریت غوښتونکو زده کړې د کډوالو او د هغوی د ماشومانو ادغام لپاره یوه پیاوړې وسیله وه.

- CP 3.3 *Crise xénophobe et antisémite*

***فرعي متن***

**د بهرنیانو څخه ویر** (xénophobe) **او یهودو سره د خصومت** (antisémite) **بحران**

د دریم جمهوریت په پیل کې بهرنیانو او د فرانسویانو چې د ساسي او ټولنیز حقونو څخه برخمند وو ترمنځ جلا والې لا زیاته ښکاره شوه. په دې ایزو افکارو کې د بهرنیانو څخه ویر او یهودو سره دښمنۍ پراختیا وموند او په ورته وخت کې بهرنۍ څیره ذاتي دښمن شمیرل کیده. او په اصطلاح علمي نظرونه نژاد پالنه پیاوړې کول.

د کار په ډګر کې د بلژیک پر ضد پاڅونونه ډیره شوه لکه لینز په ۱۸۹۲ کې. په عین وخت کې ځیني تاوتریخوالي ایټالیایان فشار لاندېراوست. ممهمه ټکي د Aigues-Mortes د مالګې په مارشس کې د ۱۸۹۳ وژنه وه. د رسمي راپورونو له مخې دغه وژنه د ۸ ایټالیاییکار ګرانو د مرګ سبب شو. د جمهور رئیس (Sadi Carnot) ترور د انارشیست یا ګډوډۍ کوونکي Caserio په واسطه، په راتلونکې کالکي کرکه او دښمنۍ د جنایت کار او خطرناکه ایټالیایی څیرې په مقابل کې پیاوړې کړ.

- <u>CP 3.4 *Passages et émigration*</u>

***فرعي متن/ برخه***

**سفرونه او مهاجرتونه**

د ۱۹ پيړۍ په پای کې فرانسې په اروپا کې لويه مهاجرتي هيواد وه. په داسې وخت کې چي ډيری اروپاييان د ټرانز اټلانتيک مهاجرتونه يې کوله دا هيواد د ټرانزيټ او وتلو ځمکه هم وه. د ۱۸۸۱ نه تر ۱۹۱۴ پورې د اروپاييانو څخه ۳۸ ميليونه کسان امريکا ته لاړل. د ۱۹ پيړۍ په نيمايې کې د لی هاور Le Havre ستيمبوټ مهال ويش د مهاجرينو د لويو مراکزو په ورځپانو کې خپار ه شو. امريکاته د مهاجرينو د ټرانزيت ځواب لپاره د ۱۸۵۵ قانون يو خاص ارګان ( د مهاجرت مسئوول ځانګړې کميسيونونه) جوړ کړ. لی هاور اوږد وخت لپاره د تګ يو مهم بندر پاتی شو. دا ښار Compagnie générale transatlantique کې ۱۸۶۴ په چي لري تړاو سره Compagnie française maritime ونومول شوه. مارسې د ۸۸۷ کال نه د فرانسې لومړی بندر هغه مهاجرينو ته وه چي امريکاته د تګ په هڅه کې وه.

- **<u>د ننوتلونیته:</u>**

***فرعي متن***

**د لوی جنګ نه تر ۱۹۲۰ پورې**

لومړۍ نړیواله جګړه د بهرنیانو وضعیت خراب کړ. د ۱۹۱۴ له آګست نه هغوی د کلک څارنې لاندې وه. دولت دهغوی حرکتونه کنټرولول، هغوی ته ویزه او پاسپورت به یې ورکول او د اوسیدلو اجازه لیک ورباندې جبري کړی وه. د دښمن هیوادونو څخه ملتونه باید هیواد پرته له ځنډ څخه پریښودله په بیل صورت کې کار ته ګمارل کیدل. د بې طرفو هیوادونو اتباع لکه ایټالیایی او اسپانوي وګړي د دولت او بهرنۍ څخه ویر (زینوفوبیا) د فشارونو له امله هغه ځای پریښودل.

په داسې حال، هیواد د جګړې له امله بهرنیانو ته اړتیا لرله. مخامخ او پټه جګړه د شدید ګردش دوره وه. څلورو کالونو لپاره د فرانسې په لویو ښارونو کې سرتیري او کارګران، بهرنیان او مستعمرات، په داوطلبانه او غیر داو طلبانه توګه سره ولیدل. دا تنوع په ټولنه باندې ژور اغیزې درلودې.

دولت په پراخه کچه د مهاجرینو په استخدام، اداره او کنټرول کې لاسوهنه کاوه. په اپریل ۱۹۱۷ کې، د بهرنیانو لپاره د شناخت کارت جوړ کړ. کله چې سوله راغله، دا هویت کارت د مهاجرت د پالیسیو یوه دوامداره او مرکزی وسیله وګرځید.

د جګړې په پایله کې، اروپا د تاوتریخوالي له امله په ګوته شوه چې د ګډوالو د پام وړ مهاجرت سبب شو، په ځانګړې توګه فرانسې ته. د بیاروغونې اړتیاوو پوره کولو او د جګړې سره تړلې د ډیپلماټیک کسر د پوره کولو لپاره، حکومت پریکړه وکړه چې بهرنۍ کارګران را وغواړي. دا نړیوال تړونونه لاسلیک کول او د ګمارونکو په ملاتړ ډله ایز استخدام تنظیمول. د مهاجرت پخوانۍ لارې، د پیژندل شویو شبکو پر بنسټ، خپل فعالیت ته دوام ورکړه.

- زماني بهیر

**۱۹۱۴**: د جګړې اعلان د نفوس لوی خوځښت رامنځته کړه: د ښمن هیوادونو اتباع دوه ورځې وخت لرله چې هیواد پریږدي، د بې طرفو هیوادونو بهرنیان اخراج ته اړ شول په داسې حال کې د بلجیم لوي شمیر مهاجرین راتلل.

**۱۹۱۷**: د فرمان په وسیله د «بهرنیانو د کاروني لپاره» د هویت کارت جوړول چې په فرانسه کې دهغوی اوسیدل تنظیم او قانوني کاوه. "د بهرنۍ او استعماری کارګران" وضعیت په چټکتیا سره د دویم فرمان له مخې روښان شو.

**۱۹۲۴:** دکار ګمارونکو له خوا جوړ شوې مهاجرت ټولنه "Société générale d'immigration " د کارګرانو ډله ایز ګمارنې تنظیم کول. د ۱۹۲۴ څخه تر ۱۹۳۰ پورې دغه ټولنه ۴۵۰ زره نارینه او ښځینه فرانسې ته د صنعت، کانونو او کرنې په برخوکې راوستل.

۱۹۲۷: د فرانسي تابعيت ته لاسرسی د ۱۰ آگسټ قانون په واسطه آساني شوې. په دغه وخت کي د اوسيدو درى کاله د تابعيت غوښتلو لپاره کافی وه. فرانسوي ميرمني چي بهرنی سره واده کوله خپل هويت يي ساتله. اداري طرزالعمل لومړی ځل لپاره د " جذب/انضمام درجي" ټاکل او د تابعيت اخيستلو شمير په چټکه توگه وده وکړه.

- CP 4.1 *Étrangers et coloniaux dans l'effort de guerre*

***فرعي متن***

**بهرنيان او استعمارگران د جگړې په هڅه کي**

په ۱۹۱۴ کي ۴۳ زره بهرنيان لکه ايټالويان چي د فرانسي په اردو کي د (Garibaldienne) لښکر جوړ کړی وو، نوم ليکنه وکړه او فرانسي لپاره جگړه وکړل. په استعماري امپراطوری کي نيم ميليون سرتيري گرځنده وو. د جگړې په وخت کي د بشري سرچيني د کمښت له امله اداره ۵۰۰ لکه کارگران له مستعمرات، چين او نور بهرني هيوادونو څخه وگمارل. د څو اروپايي هيوادونو سره ترسره شوې تړون د نويو راغلو بهرنيانولپاره حقونه تضمينول او له بلی خوا، استعمارشوي کارگران د نژادي معيارونو پر بنسټ غير مسلکی دندوته ځانگړې کيدل. د نظامی دسپلين تابع، دخلکو څخه جلا، څارني لاندې راغلل او ځيني بغاوت او اعتصاب وکړل.

- CP 4.2.1 *Contrôle des étrangers*

***فرعي متن/برخه***

**د بهرنيانو کنټرول**

په ۱۹۱۷ کي دو لت د بهرنيانو لپاره د هويت کارت جوړ کړ چي د اوسيدو د اجازه ليک معادل او د بهيرنيانو او استعمار شويو لپاره د کار کولو کارت وه. او د جگړې نه وروسته د يو ځانگړې او اجباري کارت سره تعويض شو چي د بهرنيانو د ننوتلو، د اوسيدو او کار پيژندلو او کنټرول امکان برابر کړ.

د ۱۹۲۲ نه روسي او وروسته امريکايي مهاجرين چي بی هيواده وو د ملتونو ليگ ياSociété des nations (SDN) له خوا د ناروې ديپلومات Fridtjof Nansen پيل لپاره جوړ شوې هويت او سفر سرتيفکيت ترلاسه کړل . دغه سرتيفکيت چي د نانسن پاسپورت په نامهپيژندل شوې وه بی هيواده خلکو ته مدني وضعيت او دگرځيدو امکان په داسې نړی کي چي د زياتو اداري محدوديتونو تابع وه ورکوله.

ددی دوه سندونو رامنځته کيدل د دوه اداري پراختيا لامل شوې وه: د هويت کارتونو او د مهاجرينو دفترونه چي د تابعيت له مخي تنظيم شوي وو، د فرانسي د چاړواکو سره په گډه د ملگرو ملتونو د ليگ په استازيتوب کار کول.

- CP 4.3 Les travailleurs immigrés après guerre

**فرعي متن**

**مهاجر کارګران جګړې نه وروسته**

په فرانسه کې لویه جګړه ۱،۵ میلیونه مړیني پایله درلوده. په ۱۹۱۹ کې د بشري سرچینو د کمښت جبران په خاطر د کارګرانو د ګمارنې لپاره پولنډ او بیا وروسته نورو اروپایي هیوادونو سره تړون وکړ. ۱۹۲۴ څخه ګمارنکو له خوا جوړ شوې مهاجرت ټولنه یا Société générale d'immigration د کارګرانو ګمارنې د دولت له مداخلې پرته کنټرول کړ. نوماندان لومړی په ځانګړي مرکزونو کې لکه Myslowice په پولنډ کې ارزونه او ټاکل کیدل او بیا فرانسې ته په ډیپو کې لکه Toul په Lorraine کې استول کیدل. همدارنګه د رسیدو په وخت کې فوټوګراف او پيژندل کیدل او بیا وروسته په صنعت، کان کیندنې او کرنې کې خپل ګمارونکو سره یو ځای کیدل. دوديز چینلونه، د محلي او کورني شبکو پر بنسټ په ځانګړي توګه د ایټالویانو او پولنډي یهودیانو تر منځ فعال پاتې وو.

- CP 4.4 Portrait collectif d'une France diverse

**فرعي متن**

**د متنوع فرانسې ټولیز انځور**

د ۱۹۳۰ په پای کې له بهر او مستعمراتو څخه د راغلو خلکو قوي حضور په عام وګړو کې ښکاره شو. دوديز تولیدات، مذهبي کړنې، سپورټي مراسم، سوداګرۍ او سیاسي ژمنې د ټولنې انځور ښکاره کول. د شمال په ښارګوټو کې پولنډیان کوچني ښارګوټي پیاوړې هویتي اړیکو سره جوړ کړل. په لویو ښارونو کې د ځینو ګاونډیو ظاهري بڼه بدله شوه او دا نړدي ټولنې بهرنیانو ته د ناورین په حالت کې ملاتړ چمتو کوله. په هر صورت، دوی د فرانسوي ټولنې لپاره د خلاصون او ازادۍ مخه نه نیول او په خاصه توګه د دویم نسل اولادونو لپاره ریښې پیدا کول.

- **د ننوتلو نيټه**

***فرعي متن***

**بحرانونو سره مخامخ کيدل**

په ۱۹۳۱ کې ۷.۲ میلیونه بهرنیان په فرانسه کې ژوند کول. یعنی د وګړي ۷٪. دوی اکثرا د اروپایي هیوادونو ایټالیا او پولنډ څخه راغلی وو. لیږ تعداد یې د فرانسوي مستعمراتو اتباع او نژدې څارني لاندی وو. د مې په میاشت کې، په پاریس کې د نړیوال مستعمراتو د ننداړتو پرانیستلو مراسم له امپراتوری څخه لمانځنه وکړه او په دغه موقع کې د طلایي دروازې مانۍ یا palais de la porte Dorée جوړه شوه چې دهغې سینګار د هماغه وخت د استعماري لیولتیا شاهدي ورکوي.

۱۹۳۱ کال د بحرانونو لسیزه هم پرانیستله: اقتصادي، ټولنیز او سیاسي. دغه کال کې د و زګارتیا د ډیریدو سره مخ وه او د ملی څواک ساتنه یو لومړیتوب کیدله، د منځنیو طبقو تر فشار لاندې قانوني وسلې د کار بازار او ځیني مسلکونو ته د بهرنیانو لاسرسی محدوده کړی وه. ددوی څخه کوم کسان چې له کار محروم پاتې کیدل نو د معتبرو اسنادو څخه به بی برخه کیدل او پدې توګه د هیواد پریښودلو ته اړ وو. خپل وطن ته به بیرته راستانه شول او یا په زور اخراج کیدل.

دا کورنۍ ملاتړ د اجنبیانو څخه ویر او یهودیانو ضدیت پیاوړی کړ چې له نازیسم څخه د تښتیدلي یهودي مهاجرینو په راتګ سره زیات شو. د دولت په رهبری کې ځیني متخصصان هڅه وکړل تر څو د بهرنیانو درجه بندي دهغوی اصلیت له مخې د ډیر اویا لیږ "ښه" په ښه تر سره کړي.

په ۱۹۳۶ کې د خلکو جبهه یا Front populaire د یو نازک بدلون استازیتوب وکړ. که تصور کیده چې یووالي د یو وخت لپاره دوام مومي نو ډیر ژر به نړیوال تاوتریخوالی او د نوی مهاجرینو راتګ د فرانسي دټولني درزونه زیاتول. په ۱۹۳۸ کې، Daladierفرمان د بهرنیانو په وړاندې د بی ساري جبر دوره پیل کړه او د پناه اخیستني دود یې له ګواښ سره مخ کړ.

- زماني بهير

**۱۹۳۱:** دغه کال کې نژدې ۲۵۰۰ کارګران د ټولو اصلیتونو او ملیتونو څخه د غرفي په جوړولو کې د طلایي دروازې مانۍ (Palais de la porte Dorée) په شمول چې د نړیوال مستعمراتو ننداړتون لپاره جوړیدل ګډون وکړل. یاده مانۍ چې په مې کې پرانیستل شو د لوی فرانسي او امپراطوری سمبولیک اوج ښودله.

**۱۹۳۲:** ۱۰ د آګسټ قانون د بهرنیانو تعداد محدود کړ کوم کسان چې د کار کولو اجازه لرل. په راتلونکي کلونوکې نژدې ۷۰۰ فرمانونه ددې غوښتنلیک توضیح کړ.

**۱۹۳۶:** د اسپانیا د کورنی جګړې پیل او د لومړي تبعیدیانو راتګ. ټوله بی وزله کسان مادي مرسته ترلاسه کړل. د جرمني څخه راغلي مهاجرین شرایطو لاندې نړیوال خوندیتوب ترلاسه کړل. دوی د عامه نظم په نوم ایستل کیدلای شوای او د کار بازارته ددوی لاسرسی ډیرې محدودې شوې.

**۱۹۳۸:** د ادواردلادیر Édouard Daladier دولت صادر شوي فرمانونه د بهرنیانو څارنه او کنترول ټینګ کړ. د سرغړوني احتمال زیات شو او دا کله ناکله ډیره سخته سزا ورکول کیدل.

- CP 5.1 Ordre public et surveillance politique

***فرعي متن***

**عامه نظم او سیاسي څارنه**

بهرنیان او له مستعمراتو څخه راغلي مهاجرین له نژدې څارل کیدل. په پاریس کې د پولیسو قومندانی د فایلونو یو سیستم یې جوړ کړ چې ټول بهرنیانو ته اړه لرله. د بهرنی سیاسي شخړو واردول، د کمونیزم ویره او مختلف بریدونه د اجنبیانو " métèques " او مشکل جوړونکو fauteurs de troubles " تقبیح زیات کړ. د فعالینو اخراج مخ په زیاتیدو وه او ملت پاله لیګونه لکه د ښي اړخو په څیر چې په دی خاوره کې وده وکړل د بهرنیانو څخه ویر یا زینوفوبیا او یهودیت ضد ته اجازه ورکړه. په چپ خوا کې، دبشري حقونو لیګ د قانون څخه د دفاع کولو په خاطر حرکت کاوه، مګر ګوندونه او اتحادیې د وتلو له سوچ څخه ډډه نه کوله.

- CP 5.2 *Crise économique et préférence nationale*

***فرعي متن***

**اقتصادي بحران او ملي لومړیتوب**

بحران سره، د کورنی ملاتړ قانون شو. په ۱۹۳۲ کې یو قانون د کار بازار ته د بهرنیانو لاسرسی محدوده کړه. دا جمهوریت باندی د بی باوری او اجنبیانو سره د دښمنی له امله منځته راغی او منځنی طبقه بهرنیانو په مقابل کې رقابت کولو پر لور حرکت وکړه.

ډاکټران او حقوق پوهان د خپل مسلکونو ممانعت بهرنیانو او منل شوي کسانو باندې وضع کړل. سوداګرانو او صنعت ګرانو د رژیم تابع بهرنیانو لپاره د هویت کارتونه ترلاسه کړل. په داسې حال، هر څوک چې خپله دنده له لاسه ورکوله نو ډیری وختونه خپل هویت کارت هم له لاسه ورکول او له همدی امله د اوسیدو حق یې هم له لاسه ورکول. ډیری منفکیانې د هغوی اخراج او ایستلو لامل کیدې او د هغه کسانو اخراج ورسره یو ځای ترسره کیده کوم چې غیرقانوني کارونو لپاره اړ کیدل.

- CP 5.3.1 *Solidarités inachevées*

***فرعي متن***

**نيمګړې پیوستون**

د ۱۹۳۶ په پسرلي کې د خلکو جبهه اویا Front populaire فرانسوی کارګران متحد کړه، بهرنی او استعمار شوي کارګران په اعتصابونو او مظاهرو کې ګډون کول. په چپ اړخ کې، ګوندونه او اتحادیې د جرمني او اسپانوي مهاجرینو هرکلی ته د مرستو په خاطر حرکت کول اما دغه پیوستون لنډ وخت لپاره دوام وکړ.

دولت له کورنی ملاتړ پالني او اخراج کولو څخه انکار نه کول حتی که دا ددوی په غوښتنلیک کې لیبرالیزم ښکارول. په ۱۹۳۷ کې، بهرنیان په یو لړ جنایاتو او بریدونو کې ښکیل شول چې دعامه افکارو د تشدید لامل شو. د هټلر ادعاوې، د دیکتاتورۍ پورته کیدل او نوي مهاجرینو راتګ هیواد نور هم وویشل. په ۱۹۳۸ کې د خلکو د جبهې له رانسکوریدو وروسته د دالادیر فرمان-قانون بهرنیانو لپاره د ناځرګندتیا، ګواښ او مخاطرې دوره پرانیستله.

- CP 5.4 *La France, empire colonial*

***فرعي متن***

**فرانسي، استعماري امپراطورۍ**

د جګړې په جریان کې فرانسه په ۱۹۱۸ کې جرمني په وړاندې د خپل بریا څخه پیاوړې وه مګر د لومړۍ نړیوالي جګړې د عام وژني له امله کمزوره شوه. په خپل امپراطورۍ کې د نړۍ قدرتونو په اول خط کې د ځان ساتني لپاره یو شتمني لیدله. د امپراطورۍ شتمني د سړیو او خامو موادو یوه ذخیره ښکاریده. " لویه فرانسه" د ۱۹۳۱ کال نړیوال استعمارنندارتون کې د یو شعار په توګه ولاړه وه. د عثمان امپراطورۍ ړنګیدل هم هیواد اړ کړ چې ځان د مسلمان ځواک په توګه وړاندې کړي تر څو په دیپلوماتیک اړیکو کې دهغه څخه ګټه پورته کړي. په بهر کې فرانسي مختلفو اسلامي نهادونو ته لکه ښونځي، محکمې، مسجدونه او نورو ته پیسې ورکولې پدې هیله تر څو هغوی کنټرول کړي.

- د ننوتلو نیټه:

**بهرنیان او جګړې په وخت کې ځوریدل**

د ۱۹۳۹ په پیل کې، جمهوریت په خپل تګ وخت کې هسپانویانو ته چې د کورنی جګړې له امله ډلیزمهاجرت ته اړ شوي وو او مهاجرینو ته چې نازي قدرت څخه د تښتي هڅه کوله پناه ورکړه.

په سپټمبر کې کله چې جګړه پیله شوه،استعماري سرتیري، بی حکومته خلک او د پناهندګی دحق ښښتنان په خوځښت کې راغلل. بهرنیان فرانسویانو سره لیست کې شامل شول په داسې حال نور چې دښمن او نامناسبه ګڼل کیدل توقیف ته لاړل.

د ۱۹۴۰ نظامي سقوط د سیمې د یوې برخې اشغال او د جمهوریت د ړنګیدو لامل شو چې ویچي Vichy رژیم سره تعویض شو. په څو میاشتو کې مخکني نظم له منځه لاړ. Vichy او جرمني اشغالګران د ویشلو نوي کرښې وضع کړل.

د فرانسوي تابعیت لرونکو خلک حقوق قطع او دهغوی وضعیت ګواښ سره مخامخ شو. یوه قانونی جلاوالي، یهودیان او غیر یهودیان په ۱۹۳۰ کې د یهودیت ضد خبرې اترې مطابق له بنسټ څخه جلا کړی وه. د ۱۹۴۲ څخه، نازیان په اشغال شوې اروپا کې د یهودیانو د له منځه وړلو پلان جوړ کړ. Vichyد بهرنی څخه ویر یا زینوفوبیا او د یهودیت ضد همکاریو پالیسي تر نامه لاندې په دغه جنایت کې برخه لرله. ټولول او اخراج په ځانګړې توګه د ماشومانوپه تدریجی توګه عامه پو هه زیاته کړه او د ژغورني اقداماتو لامل شو.

په ۱۹۴۴ کې بهرنیان ، مستعمراتیان، مقاومت کوونکو او یا اردو کې راټول شوي کسان په آزادی کې ګډون وکړل. په هغه ګډوډۍ کې چې د جرمني له تسلمی نه وروسته رامنځته شوه، فرانسه د مهاجرت او لویو بی ځایه کیدلو په زړه کې خپله ځای وموند چې د مهاجرت بڼه یې بدله کړه. امپراطوری هم تغییر وکړه: د فرانسې اتحایه چې په ۱۹۴۶ کې تأسیسه شوه ادراې چوکاټ یې بدله کړه. یو لړ پاڅونونه د مستعمراتو نظم ننګولي.

د جمهوریت قانونیت ته د راستنیدو سره نوي قانوني متون بهرنیانو لپاره تابعیت ته د لاسرسی شرایط، ننوتلو او اوسیدو تعریف کړ. دولت د بهرنیانو د ګمارنې مسؤولیت په خپله غاړه واخیسته کوم چې د بیا رغونې لپاره لازمي وه.

- زماني بهیر:

**۱۹۴۰**: د یهودو ضد پالیسي پلي کول، کوم چې یهودیان له ملت څخه ایستل. په اشغال شوي ساحاتو کې د جرمنیانو نظم. ویشي رژیم لپاره د تابعیت بیا کتنه، د یهودیان دریځ جوړول او د Crémieux فرمان لغوه کوم چې الجزایری یهودیانو ته په ۱۸۷۰ کې تابعیت ورکړه.

**۱۹۴۲:** د نازیانو په پریکړه او فرانسوي پولیسو په رهبری، Vel' d'Hiv' بی هیواده هدف شوي یهودیان او په ځانګړي توګه دهغوي اولادونه راټول کړ. په ۱۹۴۲ کې د جولای په ۱۶ او ۱۷ باندي ۱۲،۸۸۴کسان ونیول شول؛ ۳۰۳۱ نارینه، ۵۸۰۲ ښځې او ۴۰۵۱ د شپاړس کالو څخه کم عمر لرونکي ماشومان، تقریبا فرانسوي د ویشي له خوا ورکړل شول پرته لدې چې د نازیست له خوا غوښتل شوي وي.

**۱۹۴۳:** وروسته له دی نه چې فرانسوي بهرنیان په جرمنی کې د جبري کار خدمتونو ته اړ شول، نازی اشغالګران هم په خوښه او یا زور بهرنیان او استعمار شوي خلک وګمارل ترڅو په فرانسه کې په ساختماني ساحاتو او ترواک لاندې شرکتونو کې کار وکړي.

**۱۹۴۵:** د مؤقت جمهوری دولت دوه مصوبي/فرمانونه د بهرنیانو د تابعیت شرایط، ننوتلو او اوسیدل بیا تعریف وکړ. دوی د مهاجرت په اړونده مسائلو کې د جمهوریت دورې د قانونیت راستنیدل په نښه کړل او د بحث پرته د نژاد پر بنسټ د مهاجرینو انتخاب یې لرې کړ.

- CP 6.1 *Le crépuscule républicain*

***فرعي متن***

**د جمهوریت غوښتونکی زوال**

د ۱۹۳۹ جنوری میاشت په پای کې په اسپانیا کې د بارسلونا سقوط د جمهوریت ماتې او د فرانکو (Franco) بریا اعلان کړ. د Retirada په تعقیب یو ډله ایز مهاجرت فرانسي وهڅول تر څو خپله پوله پرانیزي. له ۴۷۵ زرو نه ډیر هسپانوي مهاجرین، ملکي وګړي او سرتیري د دری اونیو په ترڅ کې له دغه پول څخه تیر شول. ښځې او ماشومان د استوګنې مرکزونو ته یوړل شول او له بلی خوا سړي په بیړه جوړ شوي کمپونو کې توقیف، د اردو له خوا څارنه او د ډیر سخت رژیم تابع شول.

په سپتمبر کې د Reich په مقابل کې د جګړې پیل نه وروسته، فرانسه پریکړه وکړه تر څو جرمنیان او اسټرالویان چې دهغه په خاوره باندې ژوند کول د نازی ضد مهاجرینو په شمول د " دښمن" په حیث توقیف کړي او د ژمي په تر څ کې له ډیرو آزادولو نه وروسته، توقیف په می کې د جرمنی برید په وخت کې له سره پیل شو. داخل، دوی ښځې چې هغه وخته پورې باقي پاتې وو هم په نښه کولې او کمپونه په جال بدل شوي وو. د ۱۹۴۰ کال اوربند ترون د نازی ضد مهاجرینو سپارل، د اشغالګرو بنسټونو په تقاضا چمتو کول.

- CP 6.2.1 *Le système d'internement*

***فرعي متن/برخه***

**ځورونې او تباهی**

د ۱۹۴۰ څخه، ويشي (Vichy) او نازي (nazi) اشغالګر د مختلفو وسايلو په وسيله د يهوديت ضد سياستونه جوړ کړل. او دا سياستونه د (Pétain) رژيم لپاره د بهرنی څخه وير(xénophobes) اړوند اقداماتو سره يوځای وه: د " يهودي نژاد" لرونکو بهرنيانو توقيف، د تابعيت تعديل، "د بهرنيو کارګرانو ډلو" په منځ کې جبري کار.

د ۱۹۴۲ نه راهيسې، د نازيانوعام وژني پاليسي ټول يهوديان په نښه کړه. د همکاری په نوم، ويشي د حکومت ځواک ددی جنايت په خدمت کې واچوله. د يهودو سره دښمنی او زينوفوبيا له مخې، رژيم د بی هيواد خلکو، بهرنيانو او لومړۍ دهغوی ماشومان چې په فرانسه کې زيږيدلي وو دهغوی سپارل غوره کړه. په نومبر ۱۹۴۲ کې د جنوبي حوزې له اشغال نه وروسته په يهوديانو باندې دمليتي توپير پرته جبر وشوه. بهرنيان لومړۍ قرباني شول او ليږ ښه مدغم شوه، تر ټولو سخت عذاب شول: ۴۰٪ بهرنی يهوديان، ۱۶٪ فرانسوي يهوديان وشړل او يا ووژل شول.

- <u>CP 6.3 *Sauvetages, résistances et engagements militaires*</u>

***فرعي متن***

**ژغورنه، مقاومت او نظامي ښکيلتيا**

د اشغالګران په مقابل کې د بهرنيانو او استعمار شوي خلکو هوډ د پټې جګړې ټولې لارې طی کړې. خو په وسلوالو مبارزه کې يې ځان تر ټولو لوړ څرګند کړ. مقاومت د ننه، ددوی سياسي او ملي انتخابونه کله ناکله دوی سره ويشل. ليکن، د ګډ دښمن په مقابل کې مبارزه د يووالي لامل وه چې دوی فرانسې او خپل منځ کې سره يوځای کول.

پوځي نوم ليکنه، په آزاده فرانسه کې او همدارنګه په منظم پوځ کې يو ګډ تاريخ جوړ کړ. مګر د ريډ پوسټر اتلانو، د اسپانيا د2e division blindée مبارزين، د فيرست فرانسوي پوځ استعماري سرتيري زړورتيا د بی باوری لری کولو لپاره کافی نه وه. دجګړې وروسته، د مستعمراتو نظم په تاوتريخوالي سره ځان ته دوام ورکړ. د بهرنيانو ادغام ترسره شو مګر په خاموشی کې، پرته له بی عدالتي له پيژندلو څخه چې په ۱۹۳۰ کې وزغمل شو.

***عمومی متن***

**پيستون او ژغورنه**

د ۱۹۴۰ له ماتې څخه وروسته، ليږ شمير د ځوريدلو مرستې ته راغلل. په مارسليس کې، امريکايي Varian Fry نږدې ۲۰۰ فرانسوي او بهرنی خلک د هنرمندانو او متفکرينو په شمول له فرانسې څخه راوويستل. د ۱۹۴۰ په پای کې لاسماډ اويا la Cimade، د پروټسټاون يوه ټولنه چې د مهاجرين ملاتړ کوله، د هسپانيوي بنديانو او بهرنيو يهوديانو د مرستې لپاره د ګورس کمپ ته لاړه. د ۱۹۴۲ کال په اوړې کې د لاريونونو وروسته، په کليساګانو او مقاومت دننه کې رسمي لاريونونه راپورته شول. عامه افکار حرکت وکړ، د ژغورنې شبکې د يهوديانو پټولو او ساتنې لپاره جوړې شوې لکه Chambon-sur-Lignon په څير.

- <u>6.4.2 *Solder la guerre dans un monde en mouvement*</u>

***فرعي متن***

**د جګړې پای**

د ۱۹۴۵ په مې کې اروپا له ۱۰ میلون ښځه زیات د نازیسم ښځه بی ځایه شوې قربانیان درلودل. د اوږې په جریان کې متحدین دوی د اشغال ساحو ښځه په ډله ایزه توګه بیرته راستانه کړل. هغه ۱ میلیون کسان چې پاتې وو په تدریج سره په ټوله نړۍ کې میشت شول.

د جګړې په پای کې، د فرانسې امپراطورۍ یوه برخه بیرته ولاړ شو چې په عوض کې جدي سرکوب سره مخ شوه.

د فرانسې اتحادیه چې په ۱۹۴۶ کې جوړه شوه، د پادشاهۍ نظم ارام کړ. دا مستعمراتو اوسیدونکو ته د خوځښت پراخه آزادۍ ورکړه او د اصلی سیستم تدریجي تخریب سره مل شو. پدې توګه، د استعماري تسلط نابرابره بنسټونه پاتې شول.

د تابعیت په اړه د ۱۹۴۵ حکمونه، د بهرنیانو ننوتل او پاتې کیدل،له شبکې پرته، د جمهوری قانونیت ته رجوع ښایې. دوی د بهرنیانو لپاره آخري ټینګ دریځ جوړ کړل او د کاري ځواک ګمارنې لپاره چې بیارغونې لپاره اړین وه، چوکاټ رامنځته کړل.

- <u>**د ننوتلو نیټه:**</u>

**بیارغونه، استثمار او مهاجرت**

د جګړې وروسته سمدستي دوره کې په داسې حال چې د بهرنیانو شمیر په فرانسه کې د پام وړ کم شوی شوه البته( هیواد ته د راستنیدل او تابعیت ترلاسه کولو له کبله)، یو نوي مهاجرتي سایکل پیل شوه: ۱۹۴۷ نه تر ۱۹۷۵ پورې، په هیواد کې د بهرنیانو شمیر دوه چنده شوه، یعني د ۱،۷ میلون څخه ۳،۴ میلونو ته.

په اول کې دا لیږ مهارت لرونکې بهرنی کارګران وه چې د فرانسې په بیارغونه او د.« Trente Glorieuses » اقتصادي وده کې ګډون وکړل.

بیا، د ساړې جګړې په برخه کې، د کمونیستي هیوادونو یا دیکتاتورانو څخه تښتیدلو کډوالو په فرانسه کې پناه وموندله. د الجزایر استقلال د ۱۹۶۲ جولای په ۳ باندې، د اته کاله جګړې نه وروسته، د پراخه مهاجرتونو له اصلي لاملونو څخه وه. هغه وخت کې ۱ میلیون فرانسویان له الجزایر څخه میټروپولیس ته راستانه شول ( په شمول د ۸۰٪ په ۱۹۶۲ کې). دا یو لوی ډله ایز مهاجرت وه چې فرانسې تر اوسه ولیدله.

د افریقا له استقلال څخه وروسته، د خپل مستعمراتو په مقابل کې چې هغه وخت کې (مهاجر کارګران) نومیده د فرانسې چلند دوه ګوني وه: که دا یو څه بی اعتمادي وښودله، د عادي بهرنیانو په څیر به ورسره چلند نه کیده، او دوی لپاره ځانګړې حقوق په نظر کې نیول. اروپایي مهاجرین به که څه غیر منظم هم وه د امتیاز خاوندان شول.

ټولنې دننه کې بهرنیان ډیر لیدل کیدل: ددوی د ژوند ناوړه شرایط (کوچنی او یا ناپاکه استوګنځایونه) نوې ژمنې او تحرک ته وده ورکړه.

- زماني بهیر

**۵ دجولای، ۱۹۶۲:** د الجزایر خپلواکي.الجزایر څخه د ۸ زره زیات فرانسویانو او اروپایانو خروج چې د فرانسې اصلي ټاټوبې ته د اوسیدو لپاره راغلي وو ( بیا راستنیدونکي).

**۱۹۶۳**: د مهاجرت د پراختیا لپاره په بهرني دیپارتمنتونو کې د دفترونو خلاصول- Réunion, Guadeloupe et Martinique (Bumidom). دا په ۱۹۸۱ کې منحل شو.

**۱۹۶۳-۱۹۶۵:**مارکو، پرتغال، تونس او یوګوسلاویا سره د کارګری تړون.

**۱۹۶۵**: د Champigny-sur-Marne ساحې خپل اعظمي حد ته ورسیده: دا د نږدې ۱۵۰۰۰ اوسیدونکو کور وه چې ډیری یې پرتګالي وو.

- CP 7.1.2 *Guerre d'indépendance algérienne*

***فرعي متن***

**د الجزاير خپواکي**

د جولای۵ ، ۱۹۶۲ د فرانسي د لویو ښارنو په ګاونډ کې د لمانځلو ورځ وه چیرې چي الجزایریان ژوند کول: له اته کاله جګړې او د استعمار یوسلو دوه درش کاله وروسته، الجزایر خپلواک شو. له ۹ میلونه ډیر" فرانسوي مسلمانان" الجزایري شول. په ورته وخت کې، نږدې ۱ میلیون اروپایان له الجزایر څخه میتروپولیس ته وتښتیدل.

د ۴۰۰،۰۰۰ څلور سوه زره الجزایریانو څخه یواځې کوچنی اقلیت چي په هغه نیته کې په فرانسه کې وه د فرانسوي تابعیت یې غوره کړل.د الجزایر مهاجر خلک چي د خپلواکۍ لپاره هڅې ته ډیر ژمن وه د پولیسو د کلونو کلونو جبر سره مخ شول او په دننه کې ژور ویش هم تجربه کړ.

- CP 7.2.1

***فرعي متن***

**ډیکلونیزیشن (له استعمار څخه خلاصون)**

د ۱۹۳۱ استعماري نندارتون " لویه فرانسه" ښکاره کړه. له استعمار څخه خلاصون سره، د امپراطورۍ ۱۰۰ میلیونه اوسیدونکو په« France métropolitaine » او همدارنګه بهرنیو دیپارټمنټونو او سیموته راټیټه شوه.

د ۱۹۵۴ او ۱۹۷۵ ترمنځ، په لسګونو میلیون خلکو چي تر دې دمه فرانسوي وو( ډیری یې د بشپړ تابعیت څخه د ګټې اخیستنې پرته) نوي تابعیتونه ترلاسه کړل: الجزایري، ویتنام، کموریان...

اروپایان په ۱۹۵۴ کې له اندوچینا څخه، په ۱۹۵۶ کې له مصر او یا د ۱۹۵۵ او ۱۹۶۲ کلونو ترمنځ له شمالي افریقا څخه بیرته راستانه شول. په ځانګړې توګه ستونزمن هرکلی.

- CP 7.3 O Salto, *l'immigration portugaise*

***فرعي متن***

***او سالتو(O Salto)، پرتګالي مهاجرت***

په ۱۹۶۷ کې خپره شوې، د O Salto "توپ وهل" فلم د پرتګالیانو تبعید بیان کړ. کوم چي د اجباري خدمت کولو او استعماري جګړېڅخه تښتیدلي، د اسپانیا او فرانسي سرحدونو څخه په غیر قانوني ډول تیر شوي وو.

د ۱۹۶۴ نه، دا پټ راتګ، چې د Salazar دیکټاتورشیپ له خوا رد شوې وه، فرانسې له خوا وزغمل شو، او Hendaye استېشن کې د رسیدو په وخت قانوني کیدو ته جوړ شوې پروسې سره یو ځای شو. ددی مهاجرتونو سربیره، نور کسان پرتګال سره د کار تړون لاندې شتون درلودل. فرانسوي چارواکي پدې توګه هڅه کوله چې د پرتګالیانو راتګ تشویق کړي.

د ۱۹۵۰ له پای څخه د ۱۹۷۰ تر نیمایی پورې، د پرتګالیانو شمیر په فرانسه کې له ۲۰ زرو نه ۷۵۰ زرو ته ډیر شو. په دغه وخت دا په سیمه کې د بهرنیانو لویه ټولنه وه.

- <u>CP 7.4 *Soutiers de la croissance*</u>

***فرعي متن***

**د ودې ملاتړکوونکي**

د ۱۹۵۰ لسیزې په نیمایي کې، فرانسې د قوي اقتصادي ودې دوره تجربه کړه. صنعت د نورو کارګرانو په لټه کې وه ځکه سلګونو زره سرتیرې د الجزایرو په جګړه کې انحصار وو. د ایټالیا او یا الجزایرو څخه یو وخت مهاجرت دسختو کارونو په برخه کې د اړتیاوو پوره کولو لپاره کفایت نه کوله له همدې نظره، د ۱۹۶۰ کلونو په اوایلو کې مختلفو هیوادونو سره لکه مارکو، یوګو سلاویا، او پرتګال تړونونه لاسلیک شوو.

د فرانسوي کارګرې طبقې د ماشومانو پرخلاف، کوم کسان چې په هغه وخت کې، د ټولنیز خوځښت پیل تجربه کړ کوم چې د زده کړې د پراختیا له امله رامنځته شوې وه، کډوالان د ژوند له ښه شرایطو څخه لیرې ګټه پورته کړل. او د کاري ټولنې په حاشیو کې پاتې وو.

- د ننوتلو نيټه:

***فرعي متن***

**۱۹۷۳: د مهاجرت سياسي کول**

۱۹۷۰ لسيزې په فرانسه کې د نژاد پالنې د بريدونو او د جنايتونو د زياتوالي شاهد وه. د بحرانونو وروسته چې د ۱۹۷۳ د تيلوشاک له امله رامنځته شوي وو، دفرانسې دولت وغوښت چې " مهاجرتي جريان" کنټرول او پريکړه وکړه چې دکارګرانو مهاجرت تعليق کړي. له ۱۹۷۷ څخه تر ۱۹۸۱ پورې کله چې (Valery Giscard d'Estaing) د جمهوريت رئيس وه، د مهاجرت پاليسي ګاني سخته شوه: اخراج ته د وصل کيدو زياتوالي او همدارنګه " دبيرته راستنيدو اړونده مرستي" د توقيف اداري رژيم جوړونه،د فرانسوي ښځينه کارګرانو سره د مهاجرينو د تعويض هيله. د کيڼ اړخې، اتحادې، کليساګاني او د ځيني ښي اړخو ګوندونو حرکت د دغه جبري راستنيدلو پاليسي په مقابل کې.

په ورته وخت کې، د ۱۹۶۸ د مي مياشتي په سر کې او د استعمار ضد خوځښتونو په وخت کې، د کارګر مهاجرينو د حقوقو د دفاع لپاره يو حرکت جوړ شو. غوښتني متنوع او بی شميرې وې: د نژادي جورمونو غندنه، د هاستلونو په فعاليت کې سمون، ښه کورته لاسرسی، د با ثباته قانوني موقف ترلاسه کول، په فابريکو کې ټولنيز عدالت، سوداګري اتحاديو کې د مهاجرينو استازيتوب... په دغه ساحوکې، برياوې د استبداد او اخراج بديله شوه.

په هغه وختونو کې، فرانسه ډيری سياسي تبعيديانو ته هم هرکلی وکړه: پرتګاليان له استعماري جګړې څخه تښتيدل، د جنوبي امريکا د ديکتاتورانو مخالفين يا د سويل ختيځ آسيا د کښتيو خلک.

- زماني بهير

**۱۹۷۲:** د کار قرارداد او هستوګني اوس د استوګني جواز ترلاسه کولو لپاره اړين وه (Marcellin-Fontanet سرکلرونه). د بې اسنادو مهاجرينو لومړی خوځښت، کله ناکله د وږې اعتصابونو په بڼه.

**۱۹۷۳:** اوړی او مني د ډيری نژاد پالني تاوتريخوالي له کبله په نښه شوي وو، په ځانګړې توګه د مارسيل په سيمه کې.

**د جولای ۳،۱۹۷۴:** د ژاک شيراک ( Jacques Chirac) په مشری حکومت اقتصادي کډوالي وځنډول.

**۱۹۷۵:** فرانسه د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کميشنری او همدارنګه د بشردوستانه انجمنونو باندې تکيه وکړه ترڅو د ويتنام، کمبوډيا او لاوس څخه د زرګونو کډوالو هرکلی وکړي.

**د دسمبر ۸، ۱۹۸۷:** د دولت شورا Gisti پريکړه د کورنۍ د بيا يو ځای کيدو حق د «د قانون عمومي اصول» درجې ته لوړ کړ او دې نتيجې ته ورسيد چې بيا يوځای شوې کورنۍ هم د کار کولو حق ولري.

- CP 8.1 *Les raisons complexes de l'arrêt de l'immigration de travail*

***فرعي متن***

**دکار مهاجرت د درولو پیچلي لاملونه**

د جولای په ۳، ۱۹۷۴ کې، د ژاک شیراک Jacques Chirac په مشری حکومت د کارګرانو مهاجرت «معطل» کړ. دا د هغه ماډل یو ریښتینی توقف وه کوم چې د جګړې وروسته دورې راهیسي نافذ وه. وړاندې شوی بحث د بیکارۍ چې د ۱۹۷۳ د تیلو شاک څخه وروسته مخ په زیاتیدو وه، د زیاتوالي سره د مبارزې په خاطر اړتیا وه. مګر په عمل کې نور عوامل موجود وه: د دریمې نړۍ د ډیموګرافیکي زیاتوالي ویره، د الجزایر مهاجرت ته د پای ټکی کیښودلو هیله، د نوي می ۱۹۶۸ ویره چې مهاجرین متحرک کړي... په ورته وخت کې موږ د کارګر مهاجرت په قانوني بڼه پای ته ورسول، په حقیقت کې موږ د غیرقانوني کډوالی سره مخ وو. د بیرته راستنیدو بونس په ۱۹۷۷ کې ازمول شوی و: دا د ټول مهاجرینو څخه پورته و چې هرچا دمخه یې پریښودو ته چمتو و چا چې ګټه یې پورته کوله.

- CP 8.2 *Mobilisation par les droits et pour les droits*

***فرعي متن***

**د بنې اړخه خلکو تحرک د حقونو لپاره**

د پنځو مالیانو مړینه چې په Aubervilliers یو کور کې د ۱۹۷۰ کال د دسمبر د ۳۱ په شپه باندې سابند شوي وو د خوځښت یوه لړۍ یې پیل کړه. د لوړی اعتصابونه په کورونو، ګاونډیو او کلیساګانو کې څو برابره شوو چې ډیری وختونه د متفکرینو، اتحادی او انجمنونو له خوا ملاتړ کیده. د ۱۸۷۰ لسیزی پیل هم د کارګرانو اعتصاب له امله مشهور شوی وه. په فابریکو کې تقاضا د معاش، کاري شرایط او کورته لاسرسی پورې اړه درلود. اتحادیي تل ددی حرکتونو ملاتړ نه کوله. په ۱۹۸۰ کې ، د سپتمبر د ترکي کارګرانو د اوږد مهاله وړی اعتصاب د « sans papiers» د تحرک په برخه کې د یو مهم اساس استازیتوب کول: په لوړه کچه خپره شوي، مظاهرو سره مل، د زیات شمیر sans-papiers د تنظیم کولو لامل شو.

- CP 8.3 *L'accueil de nouveaux réfugiés*

***فرعي متن***

**د نوي مهاجرینو هرکلی کول**

د ۱۹۶۴ او ۱۹۶۹ ترمنځ فرانسه دلاتین امریکا ( برازیلي،ارجنټایني، اوروګواینس او چیلي خلک) له ۱۵۰۰۰ سیاسي تبعیدیانو هرکلی وکړه. ددوې نږدې ۱۰۰۰۰ کسان د مهاجر کارت چې دفرانسې د مهاجرینو او بی هیواد خلکو د ساتنې دفتر(Ofpra) له خوا ورکول کیدل ترلاسه کړل. د ۱۹۷۵ څخه تر ۱۹۸۹ پورې، د مقاماتو او متفکرینو ملاتړ په وسیله،

فرانسه د سویل ختیځ آسیا ( ویتنام، لائوس، کامبوج) څخه نږدې ۱۳۰ زره کسانو ته پناهندګی ورکړه. دا هیواد پدی توګه خپل انځور د بشري حقونو ځمکي په حيث چي د غیر مستعمره کولو جګړې په واسطه متضرر شوې وه بیرته جوړ کړ. له کمیونیستي رژیم څخه د تښتیدلي مهاجرینو هرکلی د هماغه وخت د مهاجرت ضد پالیسي سره مخالف وه.

- CP 8.4 *Rixes et attentats xénophobes*

***فرعي متن***

**جنګونه او د زینوفوبیک (اجنبی څخه ویر) بریدونه**

د ۱۹۷۰ لسیزې په لومړیو کې، زینوفوبیک تاوتریخوالی، چې د ښې اړخو ډلو له خوا بل شوې وې د شمالي افریقایانو په مقابل کې څو چنده شوې. د Djellali Ben Ali د وژني قضیه، یو ځوان چي په اکتوبر ۱۹۷۱ د یو ودانی ساتونکي له وژل شوې وه دخلکوافکار بدل کړه. د ۱۹۷۱ په نومبر کې، د نژادي تبعیض په وړاندې د ۱۹۶۵ نړیوال کنوانسیون تصویب کړه. د جولای قانون (loi Pleven) نژادي تبعیض جرم ته خوځښت ورکړه، کرکه اویا تاوتریخوالی. دا د عامه چاروا‌کي ضمانت ته سزا ورکوله کوم یو چي په قصدي توګه د مذهبي او نژادي دلایلو پر بنسټ مشروع حق ردول. دغه وخت کې اتحادیي مدني اقدام کولای شوای. لیکن دا قانون کله ناکله عملي کیده ځکه دا ستونزمن وه چي مشخص وشي تبعیض قصدي ده.

## ۱۹۸۳

**لومړی، دوهم، دریم نسل! د حقونو لپاره مبارزه او د نویو سرحدونو راڅرګندېدل**

په ۱۹۸۱ کې په ټاکنو کې د François Mitterrand بریا څخه وروسته، او په مقننه ټاکنو کې د کیڼ اړخو بریالیتوب نه وروسته، دولت بی اسناد خلک ( ۱۳۵زره کسان وو چي ددې ګټه پورته کوله) قانوني کړ، بهرنیانو ته د انجمن حق ورکړ، اخراج وځنډول، او د تیری لسیزې اجباري اقدامات په جزوی توګه لغوه کړه.

دا د زینوفوبیک او نژاد پالنې تاوتریخوالي په مقابل کې د حرکت او د نوی سیاسي، ښاري او هنري کلتور د ظهور ترمنځ د خوشحالی یوه دوره وه.

په ۱۹۸۳ کې د مساواتو لپاره او نژاد پرستی په وړاندې مظاهرې په عامه ځایونو کې د مهاجرینو اولادونه نورهم دلیدو وړ کړ. دا د اوسیدواجازه لیک د پیژندلو لامل شو چي لس کاله یې اعتبار درلود. ۱۹۸۳ هم په ښاروالی ټاکنو کې د نشنل فرانټ (Front national) لومړیبریالیتوبونه وښودله، یو سیاسي ګوند چي مهاجرت په کلکه غندل.

د اطرافی سیمو ستونزې د سیاسي بحثونو اصلی موضوع وګرځیدله. د منځنی طبقې کورنی په زیاتیدونکو توګه د " لوی کور جوړوني ملکیتونه" پریښودل چي د ادغام کولو پالیسي ګانې او اطرافو کې د مشکلاتو سمبول وو.

د بهرنیانو د استوګنې د حق او د پناهندګۍ د حق ځارنې په ځیر، دا د ۱۹۸۰ لسیزې له پیل راهیسي سخته شوه. ځینې پریکړې تل پاتې اغیزې درلودې: د اخراج بیا پیل کول، د اداری توقیف کارول، د ننه شوي خلکو فلټر کول. له یوې خوا دهغو قانوني کسانو چي د ادغام وړ وو او له بلې خوا د بی اسناده خلکو کوم چي د ایستلو وړ وو، ترمنځ واټن پراخه کړه. په تدریجي توګه پنهاهندګی ته لاسرسی محدوده شوه حال دا چي د تابعیت قانون د سیاسي کولو جدي موضوع وه.

- زماني بهیر

**۱۹۸۳:** دښاروالی په ټاکنو کې د ملي جبهې(Front national) لومړی ټاکنیز فشار.

**۱۹۸۴-۱۹۸۳:** د مساواتو لپاره او نژاد پرستی په وړاندې لاریون؛ د اوسیدلو د لس کلن اجازه لیک رامنځته کول.

**۱۹۸۶-۱۹۸۰:** د فرانسې بهرنیو ټوریستانو لپاره لازمي ویزه. یواځې څو ملي ډلې په شمول د سویسو، د CEE اتباع او امریکا متحده ایالتونه معاف وو.

**۱۹۹۷،۱۹۹۳،۱۹۸۶:** Pasqua-Debré قوانین چي بهرنیانو لپاره د ننوتلو او اوسیدو شرایط او تابعیت ته د مهاجرینو د ماشومانو لاسرسی سخته کړی وه.

- CP 9.1.1 *Mobilisations des travailleurs et stigmatisations*

***فرعي متن***

**د کارګرانو تحرک او د مسلمانانو بدنامول**

د "بیا راژوندي کولو"یا Relanceکلونو څخه وروسته دکړکیچ او ستونزې دوره راغله: دا په ۱۹۸۳ کې "د کړاونو د عطف نقطه" وه. د فولادو او موټرو صنعتونه په پراخه کچه ګوښه شول. اعتصابونه مخ په زیاتیدو شول.

د عبادت کولو د آزادۍ په نوم ، مسلمان کارګران دیني غوښتنې وکړل. د کراګرانو انځورونه کوم چې په فابریکه کې لمونځ کول عام وګرځید. د څو وزیرانو اعلامیې په "مسلمانانو ستونزه" باندې د بحثونو تمرکز سره مرسته وکړه.

د 1989 په اکتوبر کې، د Creil د ښوونځي درې نجونې چې په ټولګي کې یې د حجاب له لرې کولو څخه انکار وکړلې له مکتب څخه وشړل شول. د دولت شورا په ښوونځیوکي د عقایدو دبیان آزادۍ بیا تأیید کړ مګر، د سکولریزم تر نامه لاندې، مذهبي سمبولونو او جامو اغوستل چې دین ته ددعوت کولو په معنی وه منع کړ.

- CP 9.2 *La Marche pour l'égalité*

***فرعي متن***

**لاریون (La Marche) د برابرۍ لپاره: په عامه ډګر کې د مهاجرینو د اولادونو راڅرګندیدل**

د اوږدې مودې لپاره، کډوالو انځور نارینه کارګرانو ته منحصر وه. د ۱۹۷۰ لسیزې په پای کې، ښځې او دمهاجرینو اولادونه د رسنیو په ډګر کې ننوتل. د ۱۹۸۳ کال د دسمبر ۳ باندې، د برابرۍ لپاره او د نژاد پالنې په مقابل کې لاریون (La Marche) چې Marseille یوه نیمه میاشت مخکې پرېښې وه،La Bastille ته په پاریس کې ورسید، تر یولک زیاتو کسانو په لاره اچولی وه. دله ایزه خوشحالۍ د ورولي راتلونکي لپاره هیلې رامنځته کړه. دنړدې ټولو سوداګریزو اتحادیې، مذهبي ، ټولنیز او رسنیو برخو او کیڼ اړخو ګوندونو لخوا له ښه ملاتړ سره سره، دا لاریون د مهاجرینو اولادونو لپاره یوه لویه سیاسي شیبې جوړې کړې. په هرحال، د « Marche des Beurs » نوم په ورلان کې (عربان) د پراخې مهاجرتي لارې او د لاریون کوونکو دکورنۍ تاریخونو حساب کولو لپاره کافي نه وه.

- CP 9.3 *Dimension culturelle des mobilisations « Salon mosaïque »*

***فرعي متن/برخه***

**د « Salon mosaïque » د خوځښتونو کلتوري اړخ**

د ریښتني کلتوري او سیاسي تحرک نښه، ورځپاڼې، فینزینز (Fanzines)، تیاتر ډلې، راک ګروپونه، اتحادیې، رسنۍ ضرب. په ۱۹۸۱ کې آزادې راډیوګانې مجازې شوې. د دوی په منځ کې،ځیني یې د مهاجرینو او دهغوی اولادونو له خوا

کوربه به شول: د Soleil راډيو، Gazelle راډيو، Marseille راډيو، Beur راډيو... د ۱۹۷۷ څخه تر ۱۹۸۷ پورې د *Mosaïques* پروګرام چې د مهاجرت لپاره ددولت سکرتریټ له خوا تمویل کیده، عامه تلویزوني چینل *FR3* دمهاجرینو د کلتور منظره، وړاندې کړه. په ۱۹۸۴ کې، د *HIP-H0P* خپرونه چې د Sidney Duteil له خوا کوربه شوې وه، هره یکشنبه ماسپښین په TF1 کې نشر کیده، دځوانانو یوه برخه په نبنه کړه او د ریپ غورځنګ رامینځته کیدو یې و هڅوله. جوی سټار، ایم سی سولار، یا سټومي بګسي بیا په منظمه توګه په (Joey Starr, MC Solaar ou StomyBugsy) خپرونه کې ګډون کول.

## اروپایی وخت

"د اروپا ادغام په فرانسه کې د مهاجرت او پناه غوښتنې مسلې په ژوره توګه بدلوي .د شینګین تړون څخه د ډوبلین تړ ون ته، د یو متحرکرژیم اصول چې د اروپایانو او غیر اروپایانو توپیر کوي پیاوړي کیږي.
د شینګین کنوانسیون، چې په ۱۹۹۵ کې رامنځته شو، د آزاد خوځښت یوه سیمه یې رامنځته کړه، له پاسپورټ او چک کولو پرته. په ۲۰۲۳ کې ، دغه ساحې ۲۷ هیوادونه شامل کړ چې ۲۳ یې د اروپایي اتحادیه غړي وو.

دغه وخت کې د اروپایانو مهاجرتي لارې ډیر انعطاف منونکي وه، او تحرک د اداغام یو پیاوړې ماشین وه. مګر دا ادغام متغیر جیومټري وه. پدې اساس د اروپایي اتحادې ځیني غړي هیوادونه لکه آیرلنډ، سایپروس، بلغاریا او رومانیا په فرانسه کې د مهاجرت او پناهندګي له نظره د شینګین د ساحې برخه نه شمیرل کیدل.

د آزاد تګ او راتګ په بدل کې، د اروپا اتحادیه خپله بهرنی سرحدونه پیاوړې کړه. په ۲۰۰۴ کې دا Frontex ایجنسۍ جوړه کړه چیدهغوي د څارنې مسؤلیت لرله. غړي هیوادونه د " دریمه نړې هیوادونو" سره د بیرته راستنیدو تړونونه لاسلیک کړل او د توقیف او اخراجفعالیتونه ډیر کړل. د بهرنی سرحدونو دا پیاوړې کول په ختیځ او جنوب کې د مهاجرت او پناهندګۍ د ګډ پالیسي تعریف وه. د ۱۹۹۰ دډوبلین کنسوانسیون لاندې، دپناهندګۍ د غښتنو بررسۍ لومړی غړي هیواد ته سپارل شوې وه کوم هیوادونه چې دهغوی له لارې مهاجرینااروپا ساحې داخلیدل.

په فرانسه کې د استوګنې او د پناه غوښتنې شرایطو سختیدل د ۱۹۹۰ لسیزې په اوږدو کې د نوي خوځښت لامل شو. د بدنامی او توکم پالنې پوښتنه چې د مهاجرینو اولادونه یې په عامه بحث کې تکرار کړل.

د مهاجرینو اقتصادي، سیاسي او کلتوري نوښتونه ډیر وو. ځیني د خپل اصلي هیواد یا د خپل والدینو سره ژوری اړیکې رامینځته کول.

۱۹۹۵: د موافقتنامې پلې کول چې د شینګین په سیمه کې د خلکو آزاد حرکت او د کنترولونو لرې کول تضمینوي. دا تړون د بهرنیو سرحدونو د کنترول په بدل کې د اروپایانو د آزاد حرکت اصول وړاندې کاوه.

د اګست ۲۳، ۱۹۹۶: د امنیتي ځواکونو له خوا د ۲۱۰ بی اسنادو مهاجرینو ویستل چې د Saint-Bernard کلیسا یې نیولې وه، د پاریس په ۱۸ مې نیټه کې.

۲۰۰۵: په Clichy-Sous-Bois بلوا کې د دوو ځوانانو د مړینې په غبرګون کې، Zied Benna او Bouna Traoré، په بریښنایی سبسټیشن کې، د بریښنا د ډزو په ترڅ کې د پولیسو له چیک څخه د تیښتې هڅه وکړه. د شاوخوا دریو اونیو لپاره په خو ښار ګوټو کې لاریونونه پیل شول، چې په ۲۵ څانګو کې د کرفیو رامینځته کیدولو لامل شو.

۲۰۰۸: لیکوال عتیق رحیمي چې په ۱۹۶۲ کال کې په افغانستان کې زیږیدلی وه، په ۱۹۸۵ کال کې په فرانسه کې ګډوال شوې او په ۱۹۹۶ کال کې فرانسوي تابعیت ترلاسه کړی وه، د ګونکورټ جایزه وګټله.

۲۰۰۷: د مهاجرت د تاریخ لپاره ملي مرکز په La porte-Dorée قصر کې پرانیستل، چې په ۲۰۱۲ کې موزیم شو.

- <u>CP 10.1</u>

***فرعي متن***

**د اروپایانو ګرځشونه او ختيځ ته پراخوالی**

د برلين ديوال سقوط او وروسته لويديځ خواته د اروپا د اتحادي پراخوالي يوه د عطف نقطه جوړه کړه: د پرون مخالفين او مهاجرين اوس لپاره اروپايي وو.

د ايراسموس برنامه، چي په ۱۹۷۸ کي پيل شوې وه ميلونونه اروپايي زده کوونکو ته وړتيا ورکړه ترڅو دخپل روزني يوه برخه په بيل هيواد کي ترسره کړي. پدې توګه د يو اروپايي نسل په رامنځته کيدو کي مرسته وکړه. د ځوان اروپايانو په منځ کي ددې تصادفاتو څخه څو سوه زره ماشومان وزيږيدل.

په فرانسه کي، په اروپايی اتحاديه کي د منځنی او ختيځي اروپا هيوادونو ادغام د زحمت نه پرته نه تر سره کيدل. په ۲۰۰۵ کي، د اروپا د اساسي قانون د تصويب پورې اړوند د ټاکنيز کمپاين په جريان کي، د «پولنډ پلمبر» ډارونکی شخصيت چي فرانسي ته د لږ تولنيز خونديتوب سره په ټيټه بيه کار کولو لپاره راغلی و، د اروپايی سياليو د بی نظمی ګواښ سره مخ شو. په هر صورت، که څه هم د دغو مهاجرينو څخه ځيني يي په فرانسه کي په بيلا بيلو سکتورونو کي په کار ګمارل شوي، ډير يی آلمان، اتريش، ايټاليا، هسپانيه يا لوی بريتانيا ته جذب شول.

- <u>CP 10.2</u>

***فرعي متن***

**د استوګنې او پناه غوښتنې شرايط سختول**

د ۱۹۸۰ لسيزې په ترڅ کي، د مخ پر ودې هيوادونو اړوند بهرنيو مسافرينو لپاره دننوتلو ويزه وضع شو. دا ويزې په ۱۹۹۵ کي په شينګين ويزې بدلې شوې. آزاد تحرک د غربي هيوادونو اتباعو اويا په فرانسه کي د استوګنې جواز لرونکو ته ورکړل شو.

د 1978 او 1990 کلونو ترمنځ، د مهاجرينو او بي وطنه وګړو د ساتنې لپاره د فرانسي د دفتر لخوا د پناه غوښتنې د غوښتنليکونو له څيړلو وروسته د مثبتو پريکړو تناسب له 90٪ څخه 15٪ ته راټيټ شو. که څه هم څو عوامل په دې بحران کي ونډه درلودل (د سړې جګړې پای او د ختيځ بلاک څخه د مخالفينو استقبال، د فرانسي او دريم هيوادونو ترمنځ ډيپلوماټيک مسايل)، ارقام هم د پناه غوښتونکو بې باوري څرګندول.

- CP 10.3

***فرعي متن***

**د بی اسنادو کارگرانو هڅې**

اعتصابونه او ودانیو اشغال د غیر مستند کارگرانو د تحرک کولو خورا مکرر ډولونه وه کوم کسان چې ډیری وختونه په فرانسه کې د اوږدې مودې لپاره میشت وو. د ۱۹۷۰ لسیزې په لومړیو مبارزو کې د پام وړ حرکتونه اضافه شول، لکه په ۱۹۸۰ کې د سینټیر (Sentier) ترکی کارگران یا د ۱۹۹۰ لسیزې په لومړیو کې، د رد شویو پناه غوښتونکو په شاوخوا شدید خوځښت. په ۱۹۹۶ کې، کلیساگانې د میلمه پالنې سمبول، اشغال شول، Saint-Ambroise بیا Saint-Bernard په پاریس کې. .وروستې د اګست په 23 د پوځې ځواک له خوا تخلیه شو. ډیری ډلې او انجمنونه، ملی اویا محلي، اجتماعي او یا د مهاجرینو اولادونه په غورځنګونو کې ګډون کول که بشري ووا‌و یا سیاسي.

- CP.10.4

***فرعي متن***

**جریانونه او ریښې**

په رارسیدو سره، کډوال اکثرا د خپلو هیوادوالو سره د ملګرتیا هڅه کوله. په لویو ښارونو کې د چین، شمالي افریقا او ترکیې ګاونډیان راڅرګندېدله. دا ځایونه د پیرودلو ځایونه وه، مګر د پیوستون او اجتماعي کیدلو مهم ځایونه هم وه.
د مهاجرینو لپاره چې په فرانسه کې میشت وه، د ځای پرځای کولو مختلف ډولونه د اصلي هیواد لخوا تنظیم کیدله. ځینې وختونه ژوند د دوه هیوادونو تر مینځ تنظیم کیدل - دلته او هلته - دواړه په خپل ډول میشت وو. البته د دوهم کور جوړولو یا د کورنۍ کور ساتلو په احسان. د اصلي هیواد سره اړیکې د موسمونو، اړتیاوو، خوښیو او د کورنۍ او ټولنې ژوند د رواجونو لخوا مشخص کیدلې.